UNHCR
The UN Refugee Agency

We Stand
#WithRefugees

THE WORLD BANK
IBRD • IDA | WORLD BANK GROUP

**PRESS RELEASE**

**UNHCR News**

UNHCR Kabul Office

Public Information Unit

For further information please contact M. Nadir Farhad

Farhadm@unhcr.org

Tel: +93 (020) 2200 381/2

Fax: (+41) 22 739 7501

Mob: +93 (0) 791 990 018
+93 (0) 700 279 231

**تاریخ: 14 جولای 2019** **محل: کابل**

**افغان راستنېدونکي کډوال له اقتصادي ستونزو او د کاري زمينو له نه شتون سره مخ دي**

**کابل؛ د ۲۰۱۹ کال د جولای ۱۴ –** په افغانستان کې د نړيوال بانک او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ (UNHCR) د يو نوي راپور موندنې ښيي چې د هغه افغان مهاجرينو اقتصادي وضعيت او د ژوندانه شرايط چې د ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۷ کال پورې خپل هېواد ته راستانه شوي، نظر هغه مهاجرينو ته چې تر اوسه پورې په پاکستان کې ژوند کوي، خورا زيات ستونزمن بلل کېږي.

دغه راپور چې **"د افغان کډوالو د ژوندانه د شرايطو او د کاري فرصتونو او مسکن برابرولو په هکله د پريکړو څرنګوالی"** تر نامه لاندې جوړ شوی؛ د نړيوال بانک او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ (UNHCR) د ګډ کار محصول ده. دغه راپور د هغه شمير افغان کډوالو د ژوندانه شرايط څېړلي؛ کوم چې د ۲۰۱۴ کال څخه تر ۲۰۱۷ کال پورې بېرته هيواد ته راستانه شوي دي.

د دې راپور د موندنو پر اساس ډيری کډوال خپل هېواد ته له راستنېدو سره دا غوره بولي چې په خپل ولايت او اصلي ټاټوبي کې استوګنه ولري؛ خو له دې سره سره يو په دريمه برخه راستنېدونکي کډوال په کابل او ننګرهار ولايتونو کې ميشت شوي دي. ډيری هغه راستنېدونکي کډوال چې هېواد ته له راستنېدو سره په خپلو اصلي سيمو کې ځای پر ځای شوي، د خپلو ټولنيزو اړيکو په مرسته د دندې خاوندان ګرځېدلي؛ خو بيا هم د بېوزلۍ پراخه لمن او د کار موندنې د فرصتونو نه شتون، په کليوالو سيمو کې يو لوی ګواښ بلل کېږي. سره له دې چې په هغه ولايتونو کې چې کمه پراختيا يې موندلې، تحصيلي او ښونيزو امکاناتو او همدارنګه د اړتيا وړ روغتيايي خدماتو ته کم لاسرسی يو ستر ګواښ بلل کېږي.

*" هغه سختو شرايطو ته په کتو سره چې افغان کډوال ورسره مخ دي؛ اړينه ده چې د دوی ستونزو ته د رسېدنې په موخه يو لړ بيړنې او هراړخيزه ګامونه د اړوندو ادارو له خوا طرحه او عملي شي". **په افغانستان کې د نړيوال بانک رييس، هينري کرالي د دې موضوع په څرګندولو سره زياته کړه:** "د هغه اړتياوو د پېژندنې په موخه چې راستنېدونکي کډوال ورسره په ورځني ژوند کې مخ دي، او د دې اړتياوو او ستونزو د حل لارو د موندنې لپاره، معلوماتو ته لاسرسی او د ارقامو دقيق تحليل يوه مهمه مولفه بلل کېږي. د دغه راپور په جوړولو کې د نړيوال بانک او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ ګډ کار چې د کډوالو او داخلي بېځايه شويو سره د بشر پالنې مرستو د توزيع د ښه والي په موخه ترسره شو، زموږ د کاري شريکانو تر منځ د همغږۍ رامنځ ته کولو د زياتوالو په برخه کې يو ستره لاسته راوړنه بلل کېږي."*

*د دې راپور د اهميت په هکله، په افغانستان کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ (UNHCR) استازې؛ کارولين وان بورين، داسې وايي:" ۲۰۱۹ کال له يوې خوا له خپل هېواد څخه د افغانانو د اجباري کډوالۍ د پيل له څلويښتمې کليزې سره سمون خوري؛ له بلې خوا د افغان کډوالو د داوطلبانه راستنېدو په هکله او د هغوی د مجدد ادغام لپاره د بشري مرستو په برابرولو کې د نړيوالې ټولنې هڅې هم په هر اړخيزه توګه رواني دي او اړينه ده چې ډير نور کارونه او هڅې په دې برخه کې ترسره شي. د دې راپور موندنې او ارقام به د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ او زموږ له نورو شريکانو په ځانګړې توګه د افغانستان له دولت سره مرسته وکړي تر څو د کډوالو او داخلي بې ځايه شويو د ملاتړ په خاطر لا ډيرې او اغېزمنې هڅې ترسره کړي".*

دغه راپور د افغان کډوالو د راستنېدو او په ټولنه کې د هغوی د موثر ادغام د ملاتړ او هڅونې لپاره د فرصتونو او ستونزو پر پيژندنې تمرکز کړی او په اوږد مهال کې د کډوالو پر داوطلبانه او تدريجي راستنېدو يې ټينګار کړی. د دې وضعيت بېلابېل تبعات به له يوې خوا په هېواد کې د اجباري بې ځايه کېدو څخه را مينځ ته شوې ستونزې راکمې کړي او له بلې خوا د افغانستان دولت او نړيواله ټولنه هڅوی څو يو لړ تدابير او لا ډيرې آسانتياوې د کډوالو د خوندي او مطلوبې راستنېدنې په موخه عملي کړي. د دې راپور موندنې به په کليوالو سيمو کې د اړمنو او بې وزلو خلکو لپاره د زېربناوو د جوړولو پر پراختيا او ملاتړ او د نړيوال بانک او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کميشنرۍ تر مينځ د اغېزمنو کاري اړيکو د همغږۍ په رامينځ ته کولو کې مهم نقش ولري. د دې راپور بشپړ جزييات له دې ځايه ترلاسه کولی شئ: http://wrld.bg/1tFi30p2W4E